Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

# د ادغام یا انتګراسیون د کورس د ګډونوالو لپاره د معلوماتو د حفاظت د عمومي مقرراتو (DSGVO) د 13، 14مو مادو له مخې د مشخصاتو د محفوظولو په اړه معلومات پاڼه

د ادغام یا انتګراسیون کورس د مهاجرت او کډوالو د فدرالي سازمان لخوا هماهنګ او اجراء کېږي، کوم چې دې لپاره د خصوصي او دولتي کورس وړاندې کوونکو ادارو د خدمت څخه استفاده کوي، 43 § برخه 3 فقره 2 AufenthG.

ددې وظیفو د سر ته رسولو لپاره ستاسو شخصي مشخصات د لاندې ادارو لخوا جمع او محفوظول کېږي:

- فدرالي سازمان ستاسو اړوند شخصي مشخصات غونډوي، تر کومه چې دغه د لاندې اهدافو لپاره اړین وي:
  - د ادغام یا انتګراسیون یو کورس کښې د ګډون لپاره داخله (5 § برخه 1 IntV) او د ژبې د کورس د زده کړې د زیات نه زیات 300 ساعتونو د تکرار لپاره (§ 5 برخه 5 IntV).
  - د ادغام یا انتګراسیون د کورس د مصارفو د برخې څخه استثناء (5 § برخه 5 IntV)
  - د سفر د لګښتونو د مالي مرستې ورکولو لپاره (4a § برخه 1 IntV)
  - د اغام یا انتګراسیون د لګښتونو د برخې 50% بېرته اخیستلو لپاره (9 § برخه 6 IntV)
- هغه وخت چې د مهاجرت چارواکي، روزګار لټوونکو لپاره د اساسي تحفظ مسؤوله اداره، د پناهندګانو د خدماتو د قانون له مخې د خدماتو وړاندې کوونکې اداره یا د اداري چارو فدرالي دفتر تاسو په یو کورس کښې د ګډون حقدار یا مو پرې مکلف کړي، نو دغه اداره فدرالي ادارې ته ستاسو شخصي مشخصات انتقالوي، په ځانګړي ډول د ګډون د حقدارۍ د تائید معلومات او په یوه ازموینه یا د ثبت نام په ځای کښې د داخلي معلومات. فدرالي ادارې ته د معلوماتو دغه انتقال تر هغه حده اجراء کېږي تر کومه چې دا په ځانګړي ډول د ادغام یا انتګراسیون د کورس د حساب یا اجراء لپاره ضروري وي (88a § برخه 1 فقره 1 AufenthG).
- هغه وخت چې فدرالي اداره د 7 § برخه 3 یا 5 IntV له مخې کورس کښې په وخت د ګډون د هدف په خاطر تاسو لپاره یو کورس وړاندې کوونکی وټاکي یا مو کومې خاص کورس وړاندې کوونکي ادارې ته مراجعه کړي، نو فدرالي اداره په دې اړه د کورس وړاندې کوونکي او همداراز (تر کومه حده چې په تاسو تطبیق کوي) هغه دفتر ته چې تاسو یې کورس کښې په ګډون کولو مکلف کړي یاست ته خبر ورکوي.
- کورس وړاندې کوونکي اداره د ادغام یا انتګراسیون کورس کښې ستاسو د نوملیکنې او د ادغام کورس کښې ستاسو د ګډون معلومات فدرالي ادارې ته انتقالوي، تر کومه حده چې دا کورس کښې د صحیح حاضرۍ د تائید او تعین، د ادغام یا انتګراسیون کور کښې د بریالي یا غیر بریالي ګډون د شهادتنامې د صدور او یا د ادغام د کورس د حساب او اجراء لپاره ضروري وي (88a § برخه 1 فقره 1 AufenthG).
- که تاسو د قانون IntV ماده a 4 § بند 2 له مخې د ادغام د کورس پر مهال د ماشوم د مراقبت د خدماتو څخه استفاده کول غواړئ نو د مراقبت اداره به ستاسو د ماشوم نوم، تخلص او د زیږون نېټه درنه غواړي او

KNr. 630.154a Paschtunisch BAMF 01/2020

ځان سره ساتي. دا معلومات د کورس وړاندې کوونکي ادارې لخوا د مصارفو د تایید او صدور لپاره BAMF ته استول کېږي.

- تر کومه وخته چې تاسو د ادغام یا انتګراسیون کورس کښې په ګډون کولو مکلف یاست، نو که د ادغام په دغه کورس کښې ستاسو حاضري د قانون له مخې صحیح نه وي، د کورس وړاندې کوونکي اداره به هغه دفتر ته خبر ورکوي کوم چې تاسو کورس کښې په ګډون کولو مکلف کړي یاست (88a § برخه 1 فقره 2 AufenthG).
- فدرالي اداره په درخواست سره ستاسو شخصي مشخصات د مهاجرت اړوند سازمان، روزګار لټوونکو لپاره د اساسي تحفظ د مسؤولې ادارې یا د پناهندګانو د خدمت د قانون سره سم د خدماتو اړوندې وړاندې کوونکي ته حواله کوي، تر کومه حده چې دا په ځانګړي ډول د اختیار ورکولو، د ادغام یا انتګراسیون کورس کښې د حقدارۍ یا مکلفیت لپاره یا د مکلف ګډون د پوره کولو د کنټرول او د استوګنې د اقامې د تمدید لپاره ضروري وي ( 88a § برخه 1 فقره 3 AufenthG ).

فدرالي اداره ستاسو د هغو شخصي مشخصاتو د حفاظت او امنیت ساتلو مسؤوله ده کوم چې فدرالي اداره یې په خپله راغونډوي یا یې د نورو سازمانونو څخه ترلاسه کوي.

د فدرالي ادارې د تماس جزئیات په دې ډول دي:

Bundesamt für Migration und Flüchtlinge

Frankenstraße 210

90461 Nürnberg

د فدرالي ادارې د مشخصاتو د حفاظت د مسؤولې ادارې د تماس جزئیات په دې ډول دي:

Bundesamt für Migration und Flüchtlinge

- Behördlicher Datenschutzbeauftragter -

Frankenstraße 210

90461 Nürnberg

ستاسو تخلص، نوم او د زېږون نېټه زیات نه زیات لس کاله، او ستاسو نور شخصي مشخصات د ادغام یا انتګراسیون د کورس د پای ته رسولو نه زیات نه زیات پینځه کاله وروسته حذف کېږي (8 § برخه 6 IntV).

تاسو حق لرئ چې فدرالي ادارې ته درخواست ورکړئ چې ستاسو د شخصي مشخصاتو محفوظول او کار پرې کول محدود کړي، که تاسو چیرته یقین لرئ چې د مشخصاتو په محفوظولو سره به ستاسو عامه ګټې او یا د نورو عامه ګټې محدودې کړی شي. په دغه صورت کښې بیا د محفوظولو کار فقط هله ترسره کېږي کله چې دا په عموم کښې د عامه ګټې لپاره مهم وي. ددې تر څنګ تاسو د خپلو اړوندو شخصي ممشخصاتو په اړه د معلوماتو او تصحیح کولو حق لرئ او په هغه حال کښې چې مشخصات مو بې له قانوني اجازې محفوظ کړی شوي وي نو د حذفولو حق یې هم لرئ.

برسېره پر دې تاسو د مشخصاتو د حفاظت لپاره د مهاجرت اړوند مقام ته د شکایت ورکولو حق لرئ.

Bundesbeauftragte für den Datenschutz und die Informationsfreiheit

Husarenstraße 30

53117 Bonn